# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۰ جنوری ۲۰۱۶

## اتم مجلس (له ریاء څخه ځان ساتل)

شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) دسی شنبی په ورځ د ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په نولسمه نیټه په مدرسه کی داسی وفرمایل:

دریاکارجامی پاکی ولی زړه یی نجس دی، له مباح کړویی مخ اړولی اوپه مشروع کسب کی لټ دی. خپل دین دروزی لاسته راوړلو وسیله ګرځوی. په ټولیزه توګه له تقوی لیری اوپه ښکاره حرام خوردی. خپل ریایی کړه له عوامو پټوی ، ولی له خواصویی پرپټیدو ناتوانه دی، ټول زهد اوطاعت یی ظاهری دی، ظاهریی آباد اوباطن یی وران دی.

حیرانی ده! وای پرتا! دخدای بنده ګی په زړه ده نه په تن، ټول اعمال په زړه اوباطن پوری تړلی دی. دریا جامی دوکاړه اولوڅ شه، ترڅو متعال خدای درته دتقوی جامی واغوندی. دحق دامرپه ترسره کولوکی دلټی جامی له ځانه وباسه، دشرک اوپه خلکو دتکیی کولو جامی لیری کړه، دځان غوښتنی،شهوتونو اودوه مخی نه ځان لوڅ کړه. خلکوته سترګی نیول اودی ته لیوالتیا چی دخلکو ترمنځ وستایل شی اودمنلو وړ یی وګرځی، لیری کړه، ددنیا جامی لیری اودآخرت کالی په ځان کړه.

دخپل ځواک اوقدرت څخه رابهرشه اودخدای ځواک اوغوښتنو ته لاس واچاوه. له ظاهری اسبابو لیری والی وکړه اولاس دریښتینی مسبب لمنی ته واچوه. هرکله که دا ترسره کړل دخدای دالطافو په غیرکی به ولویږی. درحمت دروازی به دی پرمخ پرانیستل شی، اودخدای ببنه به دی په برخه شی، دخدای لوری ته منډه وکړه اوځان ځانی لیری کړه اوپرته له ده بل چاته اعتنا مکوه. په پریشانه حال کی دده خواته وزغله ترڅودی حواس راټول اوله ظاهری اوباطنی پریشانیو به دی وژغوری. ترڅی چی که دکائناتوټولی دروازی دی پرمخ وتړل شی اودنړی ټول دروندوالی دی پراوړو هم شی، تاته به هیڅ زیان ونشی رسولی. ځکه خدای تا ساتی.

چاچی دتوحید پرلاسونو پرخلکواتکاء کول نابود کړل، اودزهد په ځواکمن لاس ددنیا له شره خلاص، اوغیرله خدایه بل چاته نه کتل، نودده صلاح اوژغورلتیا قطعی ده.

زه ستاسو ددنیا اوآخرت سعادت اونیکمرغی غواړم، اودنفس اوشیطانی هوا څخه موساتم، اودرته سپارښتنه کوم چی مخکی له دینه چی مرګ درپسی راشی، خپل نفس مړکړی.( موتوا قبل ان تموتوا».)

(ای قومه) زما بلنه ومنی. زه تاسو خدای اودهغه درګاه ته بولم. دخپل نفس دحظ لپاره مونه رابولم. ځکه منافق دځان په کته تبلیغ کوی نه دخدای درضالپاره، ځکه دی ددنیا دمال اودهغی دګټی غوښتونکی دی.

ای نادانه دریاکارانو خبرو اوتبلیغاتوته غوږ مه نیسه، اوددی دغلکارانو فریب مه خوره. ته دنیکانو اوپاکانو ناستی ته اړتیالری، ترڅو دی دنفس اوشیطان له شره خلاص کړی. ددوی دکورملازم اوسه اوله نصیحتونو یی ګټه پورته کړه. اوبیا وروسته پخپل کورکی په مجاهدت لاس پوری کړه. ځکه هرکله که دی په دی دستوراتوعمل وکړ، درد به دی دواشی، اودخدای عزّوجلّ په اذن به هدایت درته وشی.

ولی ته پرخوله وارع یی اوپه زړه فاجر. ژبه دی دخدای شکرانه وایی اوزړه دی انکارکوی. ظاهردی له اسلامه خبرورکوی اوباطن دی له کفره. ظاهردی موحد دی اوباطن دی مشرک. زهد اوتقوی اودین دی یوازی صوری دی اوظاهری. باطن دی داسی وران دی چی ډیران ته ورته دی. که پردی حال په مداومت پاته شوی نو پوه شه چی شیطان دی په زړه ځادرغوړولی اوځای یی پکی نیولی.

ولی مومن لومړی دباطن په آبادولو لاس پوری کوی اوبیا دظاهر په کلا پیل کوی، داسی کس ته ورته دی چی یوه ودانی پیل کړی، لومړی داخل جوړ اوښکلی کړی بیایی دیوال اودروازه جوړه کړی. نوځکه لومړی دخدای دبنده ګی پواسطه اودده داوامرو پرترسره کولو دعمارت دننه جوړوی، اوبیا وروسته ظاهر اوصورت ته ځیرکیږی. اصل باید دآخرت دځیرمی اوفرع ددینا لپاره ځانګړی باید شی.

«وَآتِنَا فِی الدُّنْیا حَسَنَةً وَ فِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَّا عَذابَ النَّارِ»-